دولت جمهوری اسلامی افغانستان
کمیسیون مستقل انتخابات

دافغانستان اسلامي جمهوری دولت
د ټاکنو خپلواک کمیسیون

Islamic Republic of Afghanistan
Independent Election Commission

# د ټاکنو خپلواک کمیسیون پرېکړه لیک

| | |
|---|---|
| د پرېکړې شمېره | 1393-16 |
| موضوع: | د ولسمشریزو ټاکنو په دویم پړاو کې د رای ورکولو محلونو تعین او تصدیق |
| مرجع | د ټاکنو خپلواکمیسیون دارالانشا |
| د جلسې نېټه او ځای | ۱۳۹۳ کال د ثور۳۰(۲۰۱۴ کال د می ۲۰) د ټاکنو خپلواک کمیسیون مرکزي دفتر |
| حاضر غړي: | ښاغلی ډاکټر احمد یوسف نورستاني، ښاغلی عبدالرحمن هوتکي، آغلي ګلالی اځکزی، ښاغلی سرپر احمد برمک، ښاغلی پوهاند محمد حسین ګرزیواني، ښاغلی محمد عزیز بختیاري، ښاغلی قاضي سلیمان حامد، آغلي لیلا احراري او اغلي شریفه زرمتی وردګ. |

د ټاکنو خپلواک کمیسیون او د ټاکنېزو شکایتونو خپلواک کمیسیون د تشکیل، دندو او صلاحیتونو قانون ۱۳ مادې او د یاد قانون د ۱۴ مادې، ۱ فقرې په ۱۱بند کې ذکر شوې صلاحیت له مخې،

**د ټاکنو خپلواک کمیسیون پرېکړه کړې چې:**

د ولسمشرۍ ټاکنو په دویم پړاو لپاره چې د روان کال د جوزا په ۲۴ ترسره کېږي، د رای ورکولو محلونه په لاندې ډول ټاکل شوي او تصدیق شوي دي:

1. د رای ورکولو محلونه چې د ولسمشریزو او ولایتي شوراګانو د ټاکنو په لومړي پړاو کې په پام کې نیول شوي وو، همغه شان دې په خپلو ځایونو پاتې شي.
2. د رای ورکولو هغه محلونه چې د ۱۳۸۹ کال ټاکنو د رای ورکولو له مرکزونو څخه کم شوي وو، بېرته همغو مرکزونو ته زیات کړل شي.
3. د رای ورکولو محلونه چې په لومړي پړاو ټاکنو کې د احتیاطي محلونو په توګه ځینې مشخصو مرکزونو ته ځانګړي شوي وو، په دویم پړاو ټاکنو کې دې په اصلي محلونوکې ورشامل کړی شي.
4. د ولسمشرۍ په دویم پړاو ټاکنو کې دې په هر ولایت کې ٪۵ د رای ورکولو محلونه زیات شي او تر څنګ یې په هر ولایت کې ٪۵ احتیاطي محلونه هم په پام کې ونیول شي.
5. د ولسمشرۍ په دویم پړاو ټاکنو کې د رای ورکولو محلونو زیاتوالي ډېر په هغه مرکزونو کې په پام کې ونیول شي چې په لومړي پړاو کې د راې پاڼو د کموالیشکایت پکې موجود وو.

| له پرېکړې سره په مخالفت کې | د غړو نومونه | د پرېکړې تاید |
|---|---|---|
| | ښاغلی ډاکټر احمد یوسف نورستاني | |
| | ښاغلی عبدالرحمن هوتکي | |
| | آغلي ګلالی اځکزی | |
| | ښاغلی سرپر احمد برمک | |
| | ښاغلی پوهاند محمد حسین ګرزیواني | |
| | ښاغلی محمد عزیز بختیاري | |
| | ښاغلی قاضي سلیمان حامد | |
| | آغلي لیلا احراري | |
| | آغلي شریفه زرمتی وردګ | |